AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۳۱

# د انساني روح وزن

د امریکاد لاس اینجلس ښار مشهور ارواه پوه ډاکټر ابراهام د انساني روح د وزن معلومولو هڅې پیل کړې. هغه به هغه ناروغان په یوې نازکې او حساسې تلې/ترازو تلل، چې زنکدن به یې وو .
ده نیږدې ۵ کاله همدا څېړنه روانه کړې وه او لسګونه ناروغان یې تلل، د ساه اخیستلو پر مهال به یې د هغوی وزن ته کتل او چې کله به یې چې ساه بیرته له سږو وتله؛ نو بیا یې وزن معلوموه. تر دې وروسته به چې ناروغ مړ شو، نو په لومړیو شپېو کې به یې د هغه وزن یاداښت کړ.
ډاکټر د خپلې اوږدې څېړنې په پای کې اعلان وکړ چې د انسان د روح وزن ۲۱ ګرامه ده !
ده وویل: انساني روح د هغه ۲۱ګرامه اکیسجن نوم دی، چې زمونږ د سږیو، رګونو، هډونو په کونج کونج کې ګرځي/دوران وهي .
د ابراهام په خبره: مرګ په یوه ثانیه کې همدغه اکسیجن د بدن له هرې دریڅې راتولوي او انساني حجرې وژني.
ایا فکر مو کړی چې ۲۱ ګرامه څومره وزن دی!
دا د اوسپنې له ۲۱ کوچنیو زرو سره مساوي وي، یو رومی، یوه کوچنی منه او د سمندر په غاړه کوچنی تیږه ترې زیات وزن لري.
خو سره له دې زمونږ خبرې په هوا کې او فکر مو تر اسمانونو هاخوا وي.
د ۲۱ ګرامه روح درلودونکی انسان فکر کوي چې همدی د میلیاردونو ټنو وزن لرونکو کایناتو یوازینی مسیحا دی.
همدلته سوال پیدا کیږي، چې که زمونږ روح ۲۱ ګرامه دی؛ نو په همدې ۲۱ ګرامونو کې به زمونږ خواهشونه، ارمانونه او هیلې څومره وي؟ په دې کې به مو نفرتونه، لالچ، چالاکي، دوکې، فریبونه او کبرونه څومره وي؟
آیا دا به ټول د همدې وزن نیمایي وي؟
نو اې انسانه !
مونږ چې دومره کوچني او بیخي په حېرانونکي بڼه جوړ شوي یو، په خپل ځان د څو ثانیو واک نه لرو، بیا ولې دومره کبر وکړو او له خپل جوړونکي ذات نه غافل واوسو!

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ